لیکوال او شناند : نظرمحمد مطمئن

۰۵ اگست ۲۰۱۵

# طیب آغا به د سولې وروستی قرباني نه وي

**سریزه:**

۴۲ کاله وړاندې (۱۹۷۳ز کال) چې کله سردار داوود خان واک ته ورسید، دهغه په مقابل کې ډیرو لږو مجاهدینو په پنجشیر کې پاڅون وکړ، داوود خان غوښتل چې د سولې لاره خپله کړي، هغه ځکه د سولې قرباني شو، چې روسیې او زموږ ګاونډې هیواد د خپلو موخو له پاره د داوود خان سره ستونزې ورځ تر بلې زیاتیدلې.

د مجاهدینو په وروستیو وختونو کې نږدې ۲۸ کاله وړاندې ( ۱۹۸۷ ز کال) چې کله هم ډاکتر نجیب الله واک ته ورسید، لومړۍ هڅه یې داوه چې مجاهدین په واک کې ورسره شریک کړی، چې ونه شو، بیا یې هڅه وه چې مجاهدینو ته زیات واک ورکړي، د مجاهدینو ځینو مشرانو داخبره هم نه خوښوله. بیا ډاکتر نجیب الله هڅه وکړه چې ټول واک ښاغلي حکمتیار ته پریږدي یواځې د کمونسټ* پلوه حکومت خلکو ته په کابل کې د ژوند کولو حق ورکړي، ولې تاریخي اشتباه وشوه، او حکمتیار په ډیرو لنډو جملو کې د ډاکتر نجیب د استازې خبرې رولنډې او ویې ویل موږ فاتحانه کابل ته ننوځو.

احمدشاه مسعود د پرچم ډلې له مشر ببرک کارمل او د خپلسرو ملیشو له مشر عبدالرشید دوستم سره ائتلاف وکړ، دوېمه کودتا پر نجیب بیا هم د پرچم ګوند له خوا وشوه، پر داوود کودتا او ډاکتر نجیب کودتا دواړه د کمونستانو له خوا شخه وي.

د استاد رباني په څلورکلنه دوره (۱۹۹۲ – ۱۹۹۶ زکال) کې هم د سولې هره هڅه ناکامه شوه، په رښتوني ډول استاد رباني غوښتل چې سوله وشي.

استاد محمد زمان مزمل وایي چې استاد رباني د ډیرو نورو کسانو په مخ کې موږ ته داخبره وکړه، چې دابه زموږ مقدر همداسې و چې له عربو مجاهدینو او طالبانو سره یې زموږ جګړه په برخه کړه، د اسلامي امت میندې به بیا په یوه پیړۍ کې داسې مجاهد بچیان او ځوانان رانه وړي، زموږ بد تقدیر موږ له همدغو شاژلمو سره په جګړه کې واچولو.

له همدومره پوهاوي سره سره بیا هم هغه جګړه کوله، استاد سیاف چې د احادیثو شیخ دی، هغه له پوهاوي سره سره له عربو مجاهدینو او طالبانو سره جګړه کوله او د احمدشاه مسعود تر څنګ ولاړ و.

پوره باور لرم چې مشرانو سوله غوښتله، خو هر ځل چې به د سولې خبرې کامیابۍ ته نږدې شوې د پردیو بریڅانو به منافقت وکړ او ټوله پروسه به یې ناکامه کړه.

قطب الدين هلال وايي چي د طالبانو سره د هم اهنگي شورا خبري يو مخ پريکړي ته ورسيدلي، پريکړه د اعلان له پاره چمتو شوه، تر اعلان لږ مخکي دغه خبري د اسلامي حزب له خوا بې نتيجي پای ته ورسيدي او همايون جرير پکي منفي رول ولوباو، هغه له ايران څخه د ښاغلي حکمتيار سره اړيکه نيولي وه.

په عشق اباد کي د طالبانو او شمال ټلوالي د رهبري ترمنځ خبرې نتيجي ته ورسيدي، هرڅه سم روان و، ټولو مواردو کي توافق وشو، خبره د پريکړې د اعلان وه، چي شمال ټلوالي غوښتنه وکړه چي د حکومت په رائس کي بايد پخوانی پاچا ظاهرخان راوستل شي، هغه چي طالبانو وار له مخه هم ډيرى سياستوالو پر دي تورنول چي د پاچا ظاهر خان له پاره کار کوي، همدا لامل شو چي خبري بي نتيجي اعلان شوي.

د ښاغلي کرزي سره د کندهار په شاولي کوټ کي د طالبانو توافقات وشول، د طالبانو د دفاع وزير ملاعبيدالله اخند، رئيس عبدالواحد، ملاعبدالسلام راکتي مخامخ ورسره وکتل، خو تر يوې ورځي وروسته ټول توافقات په اوبو لاهو شول.

د طالبانو ځينو مشرانو بيا هم هڅه وکړه چي د کندهار اداري سره رابطه ونيسي او په هيواد کي پاتي شي، ولي اجازه ورنه کول شوه، هغوی چي په هيواد کي دننه پاتي شول يا خو گوانتانامو او يا هم بگرام زندانونو ته يوړل شول.

## ربنتوني سولي ته ژمن کسان په نښه کېدل

استاد برهان الدين رباني چي په وروستيو وختونو کي يي د پخوانيو طالب مشرانو ملاعبدالسلام ضعيف او مولوي وکيل احمد متوکل سره هم کتلي وو، چي د سولي له پاره يي د ربنتوني هوډ تکل کړی وو، پاکستان ته د وروستي سفر پر مهال ورته ويل شوي وو چي ستا د مرگ خطر دی، او ډير ژر له همدې وروسته د کابل په وزير اکبرخان کي ووژل شو.

جنرال هزاره چي په رسنيو کي د سولي اړوند حقايق ويل، د کور مخکي يي بمونه کېښودل شول او پري والوزول شول، زخمي شو، مړ نه شو.

استاد محقق چي د طالبانو سره د ليدلو سپکه وعده وکړه، دهغه پر موټر پر رڼا ورځ ماين وچاوديد، له هغه وروسته يي بيا د سولي خبره پر خوله رانه وړه.

د سولي بل لوبغاړی معصوم ستانکزي هم له څو مرگونو حملو څخه روغ ووتی.

د طالبانو يو مشر چي خپلواکي او ازادي باندي يي باور وو، د پرديو هيوادونو په زندانو کي يي ځاه ووتله، ملاعبيدالله د طالبانو د دفاع وزير، او دا ډول ملابرادر اخند چي د ملامحمد عمر نايب و، چي د سولي له پاره يي هوډ ښکاره شو، د پرديو هيوادونو په زندان کي يي صحت له لاسه ورکړ، ملاعبداللطيف منصور چي په دوبی کي يي د کا آی ډي سره د سياسي کميسون د غړو خبرو ته اجازه ورکړه، سمدستي زنداني شو.

## دسولي نيمگړې او نهيلي هڅې

ولسمشر غني چي د سولي شعار بدرگه کاوو، کله چي د امريکا له سفر څخه بيرته راوگرځيدی، د سولي خبري يي بل ډول تعبير کړي، رشيد دوستم او محقق د مليشو جوړولو اعلان وکړ، عطاء نور د شمال څخه د دفاع خبري پيل کړي.

د پگواش غونډه په دوحه کي يقينا د سولي اړوند لويه لاسته راوړنه وه، له هغه وروسته په دوبی کي د طالبانو او افغانانو تر منځ ناستي هغه څه وو چي افغان ملت يي خوشبين کړی وو، او په ناروې کي نږدې د ۱۵۰ هيوادونو د استازو په مهمه غونډه کي د طالب او افغان حکومت مشرانو ونده اخستل او هلته د سيد طيب اغا او حکمت کرزي ترمنځ ليدنه هغه څه وو چي زموږ هيلي يي زرغونولي.

يوناځاپه پکې د اوړمچي خبري راپيداشوې، چې د سمئيزو استخباراتو په لاسوهنه يې د طالبانو د سياسي کميسون هڅې ځنډنۍ کړې.
د مرئ غونډه که هرڅاپکي شرکت وکړ خو بيا هم لاسته راوړنه وه، د طالبانو اصلي استازي مولوي عبداللطيف منصور او ملاعباس آخند پکې ګډون درلود، داچې په څه ډول راوستل شوي وو، بېله خبره ده، ولي د سولې له پاره داسي ناستي مناسبې وي.
کله چې د دوېمې غونډې خبره کېدله، د چين او امريکا ټينګار پر دي و چې د طالبانو د سياسي کميسون مشران بايد په غونډه کې ګډون ولري، او دطالبانو د سياسي کميسون مشر بيا نه غوښتل چې د پاکستان تر چتر او فشار لاندي په خبرو کي برخه واخلي، غوښتل يې په ازاد ډول خبري وکړي، همدا لامل و چې رحيم الله يوسفزي ته د يوې له بدبيني او نفرت ډکي مقالي دنده ورکول شوه، او دهغه د ليکني ځيني برخي چي څه ډول پلان و، د عملي کيدو له پاره يې د پاکستان هيواد کوشش وکړ.

## زموږ پوښتنه بې ځوابه پاتې ده

اوس ددي پرځای چي د افغان حکومت مشرانو څخه او د پاکستان حکومت مشرانو څخه څوک پوښتنه وکړي چي هغه اوربند څه شو، ولي مو اوربند ونه کړ، ولي مو طالبان خبرو ته نه کښينول، ټوله خبره يې بل لورته کش کړه، د ملامحمد عمر مرګ، د طالبانو نوی مشر او پر ورړاندې يې د مخالفتونو خبره کيږي، او همدې مخالفتونو ته کورنی، سمئيز او بهرنی رسني لا زياته هواء ورکوي.
آيا موږ افغانان حق نه لرو چي پوښتنه وکړو چي ولي په لوی لاس سوله زموږ څخه يرغمل کيږي، ولي په لوی لاس د سولې اړوند خنډونه پيداکيږي، ولي د جګړې د اوږديدو هڅه کيږي، ولي د طالبانو د غلام کيدو هڅې رواني دي، ولي د طالبانو د وېش هڅې رواني دي.
آيا همدا پورته هڅې زموږ افغانانو په ګټه دي؟ او که داچي د طالبانو د واحد صف سره سوله وشي.

## د سيد طيب آغا استعفی او طالبانو خپلمنځي اختلافات

پاکستان په ټول قوت سره هڅه کوله چي طيب آغا له مخې ليري کړي، د هغه د کورنی يرغمل نيول، د هغه ملګرو او خپله ده ته تهديد کول، هغه څه دي چي د سولې پروسه يې له خنډ سره مخ کړي وي.
په ورستيو وختونو کي دغه تهديدونه په سوله کي د خپلواکي د طر فدار ملاعبدالسلام ضعيف پوري هم راورسېدل، هغه ته هم د ځينو استخباراتي کړيو له خوا تهديد متوجه و چي د طالبانود سياسي کميسون ددغې داعيې چي په خپلواک ډول د سولې خبرو ته په کرار کرار ننوځي ننګه ونه کړي، او بايد ورڅخه ګوښه شي.
اوس چي د طالبانو په مشرتابه کي تغيير راغی، د سولې مذاکرات به خامخا د پاکستان تر تاثير لاندي راځي، او پاکستان به خامخا هڅه کوي چي ځانته ډير امتياز واخلي، او پاکستان ته د سولې په پروسه کي د دخالت لاره به د طالبانو د ځينوځرګنديدونکو اختلافاتو له امله نور هم اسانه شي.
که طالبان هم د مجاهدينو د وخت تاريخي اشتباه وکړي نو بيا به يې جبران نه کړي، وايي سياسي تېروتنه نه جبران کيږي او بيا نه راګرځي.
مولوي خالص بابا په دي نظر و چي د افغان حکومت په ټاکلو کي پاکستان ته د هيڅ ډول رول په ورکولو قايل نه و، او د پاکستان له خوا د مجاهدينو موقت حکومت ټاکنه هغه څه وو چي تر نن ورځي يې موږ د وينو مزه څکوو، او يوائي افغانان پکې قرباني کيږي.

د سید محمد طیب آغا د طالبانو د سیاسي کمیسون مشر استعفی ډیره د اندیښنې وړ ده، او دهغه استعفی له دې امله نه ده چې د واک پر سر وي، هغه دوه غوښتني چې ولي د ملامحمد عمر مرګ ورڅخه پټ ساتل شوې وو او بل داچې ولي په پاکستان کې د طالبانو د نوي مشر ټاکلو پروسه وشوه. داسي غوښتني ده فکر کیږي چې په تیرو څو ورځو کې نورو طالب مشرانو د هغه قناعت حاصل نه کړلای شو، بیا هم که چیرته طالب مشران د سید طیب آغا غوښتني جدې ونه نیسي نو په سیاسي لیول به طالبان ډیر زیات زیان ووینې، ځکه طیب آغا یو هوښیار ځوان سیاستوال و، فکر کوم د طیب آغا اصرار پر دې وو چې د پاکستان څخه طالب مشران ځانونه وباسي، او غوښتنه یې مخکې د طالبانو د نوي مشر له ټاکل کیدو هم داوه چې ملااخترمحمد منصور باید په پاکستان کې نه وي، داسي خبرونه هم ورکول شوي وو چې د طالبانو نوی مشر د مرې د سولې له ناکامه پروسي وروسته له پاکستان څخه وتلې او د افغانستان سرحدې سېمو یا خو کوم بل هیواد ته وتلی دی.

که د طالبانو واحد صف په ټوټه کیدو شي، د بهرنیانو ۱۴ کلن ارمانونه، د افغان او پاکستان حکومت د طالبانو د وېش ګډه پروژه او د پاکستان امتیازات اخستل به یقیني شي.

سید طیب آغا به د لاندې لاملونو له مخې مجبور و چې استعفی ورکړي:

لومړی: داچې د پاکستان له راتلونکي اضافي فشار نه به يي اندېښنه درلودله، مخکې چې ټول واک دده سره و، د سیاسي کمیسون پریکړې يي پرته د طالبانو د رهبرې شورا له مشورې کولای شوای، اوس به هغه ډول واک ورته پاتې نه وای، او دده واکونه به خامخا محدود کېدل.

دوېم: داچې له نړیوالي ټولنې سره يي له ډیر لوړ موقف نه خبرې کولې چې مستقیما هدایت له ملامحمد عمر څخه اخلي اوس به ورته سخته وای چې هغوی ته قناعت ورکړي چې د کوم هدف له پاره يي د ملامحمد عمر نوم کاروی، په داسي حال کې چې هغه دوه کلونه مخکې وفات شوی

دریم: که چیرته خپله طیب اغا د ملامحمد عمر په مرګ خبر وای، او بیا يي هم د نورو په مشوره له نړیوالو سره تعامل داسي و چې هدایات خپله له ملامحمد عمر څخه اخلي، پدې صورت کې هم نړیوالو ته قناعت نه شي ورکولای.

څلورم: ددې له پاره چې د طالبانو د سیاسي کمیسون ته لا زیاته ضربه اوصدمه ونه رسیږي او دده خپل شخصیت هم زیانمن نه شي له مشورو وروسته به يي د استغفی پریکړه کړې وي

### د سولې له پاره څه کول په کار دي

افغان حکومت، طالب، پخواني مجاهد، پاکستان او نړیوالي ټولنې ته په کار ده چې د طالبانو د وېش پر ځای د هغوی د یووالي هڅه وکړي، تر څو د سولې خبرې ددې پرځای چې له وېشلو طالبانو او هرې ډلې سره وشي له یوې رهبرې سره به نتیجې ته رسېدل اسانه وي.

که طالبان په ډلو ووېشل شي او دا نظر وي چې بیا امتیازات کم ورکول شي، د مجاهدینو ګوندونه ۷ په پاکستان او ۸ په ایران کې و، روسیه او ډاکټر نجیب ونه توانېدی چې هغوی پر امتیازاتو ورکولو راضي کړي، که افغان حکومت، سمئیز او نړیوال استخبارات په دې عقیده وي چې په ډلو وېشل به سمه لاره وی، بیا که د طالبانو د اوسني جوړښت څخه ۱۰ ٪ او یا ۲۰ ٪ ناراضه پاتې شي هم به جګړه دوام ولري.

او که پاکستان ته امتیار ورکول په نظر کې وي بیا به همهغه د مجاهدینو ترخه تجربه تکراریږي، ولي په کار ده چې پاکستان د سولې ربښتوني ملاتړ وکړي او جګړې د اوږدیدو پرځای د جګړې ختمېدو هڅې وشي.

طالبان که هر هیواد تر چتر او فشار لاندي د سولې خبروته داخلیږي دابه ستره تېروتنه وي، تر څو په خپلواک ډول د سولې خبرې ونه کړي، او که راتلونکي کلونه د دوي له ناسمي سیاسي پریکړې جګړه په هیواد کې دوام پیداکوي بیا به دوی هم د پخوانیو مجاهدینو په ډول ولس ته ملامت او لا ځوابه وي.
په کار ده چې افغان درېمګړی ګروپ د څو تنو څخه جوړ شي، او بین الافغاني مخامخ د سولې مذاکرات پرته د نورو هیوادونو له فشار څخه پیل شي.

## د ملااخترمحمد منصور ټاکنه او ناراضه طالبان

د طالبانو نوی مشر چې وېل کېدل د مرې تر غونډې وروسته له پاکستان څخه وتلي، ډېری کسانو فکر کاوو چې پاکستان به نور ددي توان ونه لري چې طالبان د فشار له کبله تر فشار لاندي د سولې خبرو ته چمتو کړلای شي.
ولي په پاکستان کې د طالبانو د مشرانو راټولېدل او هلته یې د مشر اړوند پرېکړه هغه سوال دي چې لا هم له ځینو طالب مشرانو سره دی، مګر باوري سرچیني وايي چې د طالبانود مشرټاکلو په غونډه کې خپله ملااخترمحمد منصور شتون نه درلود، ممکن هغه به نه غوښتل چې مشر شي او ځان به یې ګوښه کړي وي او یا ممکن چې د غونډې ځای ته نږدې نه و، او یا ممکن له پاکستان څخه وتلي وي، وخت به وښیي چې هغه د مشر ټاکلو په ورځ چیرته و، او ولي یې په هغه غونډه کې ګډون نه درلود.
زما د معلومات له مخې طالب مشرانو دومره په بېړه نه غوښتل چې د طالبانو نوی مشر دي وټاکل شي، غوښتل یې راتلونکې ژمي کې دملامحمد عمر د مرګ خبر ښکاره او له نظامي طالبانو بیا تر سیاسي طالبانو له ټولو څخه نظر واخستل شي، په یوه نسبتا لویه غونډه کې د مشر ټاکل کیدو پریکړه وشي.
داچې د ملامحمد عمر د وفات خبره ځینو پخوانیو طالب مشرانو تر نورو استخباراتي کړیو ورسوله، نو طالبانوله دې ویرې چې کوم نامناسب او ناخوښ مشر پرې د ځینو استخباراتي کړیو له خوا ونه تپل شي، په ډېره بیړه یې د نوی مشر د ټاکل کیدو غونډه د اهل حل او عقد تر نامه لاندې جوړه او ملااخترمحمد منصور یې خپل مشر اعلان کړ.
داچې سراج الدین حقاني یې مرستیال وټاکی ، پر ځای کار و، دهغه مخالفت به ډیر مشکلات جوړ کړي وای که چیرته ناراضه وای، داچې ملاقیوم ذاکر یې مخالفت ونه کړي، هغه له بصیرت څخه کار واخیست، داچې سید طیب آغا د مخالفت پر ځای استعفی ورکړه، عمیق او ژور فکر وروسته یې دغه کار چې وکړ، ددې پرځای چې مخالفت وکړي سم کارو، داچې د ملامحمد عمر ځوی او ورور یې مخالفت ونه کړ بلکه د نورو ځینو ناراضو طالبانو سره یې د جوړې خبرې شرط ایښی، یوه ښه کار دی.
که ملامحمد حسن رحماني، ملاعبدالرزاق او ملا عبدالمنان نیازي او ددوی ملګرو هم داسي کار کړی وای نو نتیجه به یې ښه وای، خپل سیاسي مخالفت او نظر به یې له ملامنصور سره شریک کړی وای. اوس هم وخت شته، باید طالبانو د خپل راتلونکي څخه ډیر د افغانستان د خلکو راتلونکي ته فکر وکړي. ددوی اشتباه افغانستان نور هم اور ته ټیل وهي، او په اور کې له افغانانو سره بالاخره دوی هم یوځای سوځیږي
آیا د طالبانو نوی مشر دغه ناراضه کسان باید همداسي خپه پرېږدې، نه، باید خپله او دده ټول ملګري هڅه وکړي چې ټول ناراضه ملګري بیرته خوشاله کړي، حتی هغه ځیني مشران طالبان چې په کابل کې دي او د طالب له نومه یې ناوړه استفاده نه ده کړي، او پرې نه ږدې چې سیاسي او د نظر اختلاف یې تر وېش او بالاخره تر جګړې ورسیږي.
که د ملااخترمحمد منصور ملګری پر دې خوشاله وي چې ښه ده دغه څو تنه ورڅخه جلاشي او ددوی صف به نور هم پاک شي، کاملا تېروتنه ده، تاسي ولیدل چې ملامعتصم آغا جان جلاکېدو څومره ټکنی کړئ، اوس که نور مشران یو په بل پسي جلاکیږي، حتمي ده چې تاسي به لوی زیان کوي

## طالبانو ته څه کول په کار دي

خپګان او ګیلي په هر تحریک او سیاسي ګوند کي راځي، د صحابه وو ترمنځ هم اختلافات او حتی جنګونه شوي دي. حتي درې خلیفه ګان حضرت عمر، حضرت عثمان او حضرت علي رضی الله تعالی عنهم دهمدې اختلافاتو له امله شهیدان شول.

نه ښایي چي داخلي اختلافاتو څخه د هېواد برخلیک زیانمن شي. یوموټی طالبان نن د هرچا په ګټه دي. حتی لویدیځي سرچیني او رسنی دې ته وارخطا دي که طالبان ووېشل شي نو په افغانستان کي جنګ او سولي برخلیک یو نامعلوم حالت ته ورټېل وهل کېږي. تر ټولو لومړی هڅه وشي که هر اختلاف وي د داخلي میکانیزمونو، مشورو او خبرو اترو له لارې مطرح شي، او حل لاره ورته پیدا شي. ټوله هڅه وشي چي بهر ته اختلاف را ونه وځي. دا چي له یو اړخ څخه خپه کسان یا له بل اړخ څخه ناراضه کسان په رسنیو پسي ګرځي او زنګونه وهي، پر انټرنټ د یوبل پر ضد قلمي جګړه پېلوي، دا له فتني پرته بل څه نه شي کیدلی. د اختلافاتو بهر ته را ایستلو حتمي پایله د یوبل په مقابل کي جبهه نیول دي، د سیاسي اختلاف پر عقیدوي او فکري او آن فزیکي جنګ اړول دي. ځکه په هر هېواد کي، هرې ډلي ته په کمین کي ناست دښمنان همدا غواړي چي نظري توپیرونه په تنظیمي توپیرونو بدل شي، او تنظیمي تنوع په تنظیمي جنګ واوړي.

اوس د دې وخت راغلی چي د هېواد دبرخلیک ټاکلو، د سیاسي ګډوډو حالاتو او د جنګ د نامعلوم لورې په رڼا کي باید هرڅوک څومره چي کولی شي د یوځای کولو او یووالي لپاره هلي ځلي وکړي. ګډوډې، تفرق او تحزب ته نه اسلام اجازه ورکوي او نه یې د هېواد سیاسي حالات تاب راوړلی شي. دا چي پر انټرنټ ځیني ماشومان لګیا دي اختلاف ته خوشاله دي او هوا ورکوي، یا لویدیځي رسنۍ مبالغي او غلط راپورونه خپروي او یا د طالب له اسلامي فکر سره مخالف د نوي نسل دولت پلوي او غرب پلوي کسان اختلافاتو ته خوشالي کوي، دا بدنیته شګونونه نه ښایي طالبان خپله په واقعیت تبدیل کړي.

که هر لورې یو څه د ګذشت له پاره ولري مساله دومره نه خرابېږي. خو که هرڅوک پر خپل دریځ ټینګ ولاړ وي، نو بیا خو نه د اسلام د مشورې اصل په پام کي ونیول شو او نه د یو منظم سیاسي تحریک په اصولو باندې تګ کېږي.

بیا نو، د هغو اړخونو او ډلو چي تر وېش په تالان خوشاله دي، د هغوی برخلیک او تاریخي حیثیت به هم د شوروي ضد هغو مجاهدینو څخه ډېر توپیر ونه لري چي د جهاد له کامیابیدو وروسته د قدرت او عدم تحمل په نتېجه کي یې دا هېواد په اور لمبه کړ. زه باوري یم که کار همیشه په مشوره پر مخ ولاړ شي، د یو بل په اړه سم تفاهم وي، او بهرنیو مداخلو په مقابل کي پوره اګاهي وي، اختلاف به فقط د نظر اختلاف په شکل پاتي وي. خو که، د اسلامي او فکري اصولو خلاف، د یو بل په اړه بدګماني وي، د یوبل نظر نه اورېدل وي، یو بل په جاه طلبي متهمول وي، نو له دې څخه بیا سرې پتېیلی شي چي د ملا محمد عمر مجاهد وفات د طالبانو د تحریک د پای پېل دی، هغه څه چي هم یې د افغانستان د یووالي او سولي دښمنان غواړي او هم د اسلام دښمنان.

***یادداشت:***

*گذشته از این که بخشهای زیادی از نوشتۀ فوق نمی تواند با نظرات پورتال "افغانستان آزاد-آزاد افغانستان" یک سان باشد، همان طوری که بار های تذکار داده ایم، با معیار ها و شناختی که ما از "کمونیزم" داریم، نه تنها دولت دست نشاندۀ روس هیچگونه مناسبتی با کمونیزم نداشت، بلکه آحاد حزب دموکراتیک خلق نیز کمترین تعلقی به کمونیزم نداشته، عناصر مزدور و نوکری بودند در خدمت تأمین و حفظ منافع شوروی سوسیال امپریالیستی.*

*ادارۀ پورتال AA-AA*